لیکنه : امیرگران

۲٤ فبروری ۲۰۲۱

## ایـــــکوشـــي یا ۲۱ د فبروري د مـــورنـــۍ ژبــي نړیواله ورځ :

د فبروري ۲۱ تمه چي د " فبروري ایکوشي " په نوم هم یادیږي د ملګرو ملتو د علمي او فرهنګي سازمان - یونیسکو Unesco لخوا د مورنۍ ژبي د نړیوالي ورځي په نوم پیژندل شوي او هرکال د ملګرو ملتو د غړو هیوادو ا و د دغه سازمان د مؤســـسو لخوا لمانځـل کیږي ،

ایـــکوشي Ekushey , ékuśa په بنــګله یا د بنګله دیش د خلکو په ژبه کي د یوویشت ۲۱ مانا ورکوي او فبروري ایکوشي د فبروري یوویشتمي په مانا ده ، پوښــــتـنه داده چي ولي ایکوشي او ولي بـنــګله دیش ؟

تــاریخي شالید ته په کـــتو د هند نیمه وچه یا برصغیر د مذهبي ایدیولوژۍ له مخي د هند او پاکستان په هیوادونو وویشله شوه چي موجوده بنګله دیش ئي هم د " شرقي پاکستان " په نوم یوه برخه جوړیده ، د یادولو وړ ده ، له انګریزي امپریل ښکیلاک څخه د مذهبي ایدیولوژۍ په اساس د سیمي له ویــش یا پارتیشن سره د هند د نیشنل کانګریس ګوند د هغه وخت مشر ( ۱۹۳۹- ۱۹٤۶ ) مولانا ابوالکلام ازاد چي په خټه افغان وو او د خدائي خدمتګارو د غورځنګ رهبر خان عبدالغفارخان چي په باچاخان مشهور وو او ګڼ شمیر نورو مسلمانانو او د ازادي بخښونـکو مبارزو مځکښانو کلک او د استدلال په توضیح کولو مخالفت کاوه ، د محمدعلي جناح په مشرۍ د مسلم لیګ ګوند د برتانوي ښکیلاک سره په تفاهم کي د پاکستان په نوم د جلا هیواد په جوړیدو اصرار کاوه ، د مولانا ابوالکلام ازاد په کتاب " India Wins Freedom " یاني هند ازادي وګټله کي په دغه اړوند داسي اشاره شوي ، " یو هیواد د مذهبي مفکوري په اساس نه جوړیږي که داسي واي نو ولي ۲۱ عربي هیوادونه یو هیواد نه ده ، او وړاندوینه کوم چي د پاکستان په نوم کوم هیواد تشکیل کیږي ، ډیر ژر به سره وپاشل شي " هغه وو چي ۲۱ کاله وروسته د " شرقي پاکستان " سفر تر بنګله دیشه پاي ته ورسید او د مصنوعي پاکستان د څلورو شګلنو ستنو یوه ستنه ونړیده ، د نیمي وچي له ویش او پاکستان له جوړیدو وروسته د غربي پاکستان حاکمي طبقي چي برتانوي ښکیلاکګرو روزلي او قدرت ته رسولي وه په " شرقي پاکستان " اوسني بنګله دیش ، صوبه سرحد اوسنۍ خیبرپښتونخوا ، بلوچستان او سینده کي د خپلو ګټو او ظالمانه پالیسیو او مقرراتو د عملي کولو په خاطر د فرهنګي ښکیلاک ناروا هڅي پیل کړي له هغي جملي د پاکستان په دواړو غربي او شرقي برخو کي یواځي د اردو ژبي رسمي کول او په تعلیمي ، فرهنګي چارو کي تعمیم کول وو، محمدعلي جناح او وروسته د دغه هیواد لومړني صدراعظم لیاقت علي خان د بنګالي ژبي له په رسمیت پیژندلو څخه په سرټمبه ګۍ انکار وکړ همدا ډول ئي په پښتونخوا او بلوچستان کي په مورنۍ ژبو د تعلیم او

تدريس ، په دفترونو، او دولتي ادارو کي دا حق ونه مانه ، د موضوع په تړاو د اردو ژبي جسارت اخبار ليکلي ، " په ۱۹۴۸ م کال محمدعلي جناح د " شرقي پاکستان " مرکز ډاکي ته ولاړ هلته ئي په پوهنتون کي محصلانو ته په خطاب کي وويل ، وروسته له دي به په غربي او شرقي پاکستان کي اردو رسمي ژبه وي " د محصيلينو له منځ څخه يوه ځوان محصل چي هغه شيخ مجيب الرحمن وو پورته شو او په لوړ اواز ئي چيغه کړه چي نهي ، نهي ، نهي " ياني دا د منلو نه ده ، د بنګله ژبي د رسميت پيژندلو او خپلواک هيواد لپاره د بنګال د خلکو مبارزه له همدغي ورځي د شيخ مجيب الرحمن ، مولانا بهاشاني او نورو لخوا په ټينګ عزم او سرښندونکي اراده پيل شوه ، همدا ډول د ډاکه په ښار کي د محصلانو لخوا د بنګله ژبي د رسميت پيږندلو مظاهري د يادولو وړ دي له هغي جملي په ۱۹۵۲ کال د فبروري د مياشتي ۲۱ نيټه تاريخ جوړنکي مظاهره وه چي د ډاکي د ښار خلک ئي کلک ملاتړ او همغږی ته راووتل ، د فبروري ۲۱ پراخه مظاهره د پوليسو او محصلانو ترمنځ په قهرجن تاوتريخوالي او خشونت واوښته چي د امنيتي ځواکونو لخوا ۳ نفره محصلان ووژل شول ، د دريو نفرو شهادت او د ايـــکوشي يا ۲۱ تم فبروري حادثي خلک سخت په قهر کړل او له محصلانو او استادانو سره په همغږی کي د بنګله ژبي د رسميت پيژندلو لپاره راووتل ، د بنګله ديش خلکو د مورنی ژبي او خپلو قانوني حقونو د حاصلولو لپاره چي تصميم نيولي وو په اسانی سره برياليتوب ته نه دي رسيدلي بلکه وروسته د فبروري له ۲۱ نيټي ، ۱۹۵۲ مظاهري او قهرجن تاوتريخوالي به هرکال ، هره مياشت او هره هفته مظاهرو او لاريونونو ته راوتل د بنګله ديش او سيمي د ډله ايزو رسنيو د رپوټونو په استناد د غربي پاکستان پوځي استبلشمنټ او استخباراتي کړيو د جنرال ټـــکاخان او نورو جنرالانو په مشری داسي وژني ، جنايت او جينوسايد کړي چي ابعاد ئي د هټلري او نازيانو له جنايتونو څخه کم نه وو ، د بنکله ديش ولس دغه جنايت ته په خپل هيواد کي هــــلوکاسټ او جنرال ټکاخان ته د بنګال قصاب وائي او هم د پاکستان له مسلط اشرافيت څخه د عفوي مطالبه کوي ، د پوځيانو ، استخباراتي کړيو او د دوي د البدر ، الشمس د قتل د ډلکيو چي په جماعت اسلامي پوري تړلي وي غيرانساني کړنو او وژنو ، د مورنی ژبي د رسميت پيژندلو او خپلواکی لپاره د بنکله ديش د خلکو تصميم او ټينګ عزم ونه لړزاوه ، او لکه څنګه چي د افغانستان لومړني جمهور رئيس مرحوم محمد داود خان په ۱۳۵۲ هـ ش کال د سرطان په ۲۶ نيټه وروسته د کودتا له کاميابی څخه پخپله لومړنی راديوئي پيغام کي وويل ( ... تصميم شرط اول موفقيت است ) د بنګله ديش خلک هم وروسته له نه ستړي کيدونکو مظاهرو ، جګړو ، سرشندنو او اتلوليو د ۲۱ فبروري يا ايکوشي تصميم چي نيولي وو د بنګله ديش د عوامي ليګ ګوند په مشری په ١٦ د دسمبر د مياشتي ، ۱۹۷۱ م کال حاصل او په دغه نيټه د " شرقي پاکستان " لنډ سفر تر بنګله ديش پوري پاي ته ورسيد ، په پورتنی نيټه د پاکستان ۹۳۰۰۰ پوځي پرسونل له خپلو وسلو او تجهيزاتو سره د شرقي زون د قوماندان تورنجنرال اميرعبدالله خان نيازي په مشری د بنګله ديش د مکتي بهاني ازادي غوښتونکو مبارزينو او د هندي قواوو قوماندان تورنجنرال جګجيت سنګهـ اروړا ته په شرمندګی تسليم شول په دغه برياليتوب نه يوائي بنګالي ژبه رسمي شوه بلکه د نړی په نقشه کي بنګله ديش يو خپلواک هيواد شو ،

۲۱ فبروري نيټه د مورنی ژبي د نړيوالي ورځي نوښت او پراوونه :

د مورنی ژبي د نړيوالي ورځي نوښت او ابتکار د بنګله ديش وو ، د کاناډا د وانکوور د ښار بنکله ديشي اوسيدونکو ، رفيق الاسلام او عبدالسلام د ۱۹۹۸ م کال د جنوري د مياشتي په ۹ نيټه د ملګرو ملتو د سازمان سرمنشي ښاغلي کوفي عنان ته په يوه ليک کي وليکل چي د نړی ټولو مورنيو ژبو ته د درناوي او خدمت په خاطر دي په نړيواله کچه يوه ورځ معلومه او هرکال دي ولمانځل شي دوي په خپل ليک کي ۲۱ فبروري ۱۹۵۲ د ډاکي د ښار د مظاهرو او تاوتريخوالي په نتيجه کي د وژلو او زخمي کيدو حادثي ته په اشاري سره همدغه نيټه چي په بنګالي ژبه کي ايکوشي

ورته وائي وړانديز کړي وه ، همدارنګه پورتني وړانديز د بنګله ديش پارلمان ته هم معرفي او د حکومت لخوا د يونيسکو سازمان ته د ارزوني لپاره وړاندي شو په پاي کي د يونيسکو د سازمان په ۳۰ عمومي اسمبلی کي د رايو په اتفاق د ۱۹۹۹م کال د نوامبر د مياشتي په ۱۷ نيټه ، ۲۱ د فبروري د مورنی ژبي د نړيوالي ورځي په نوم تصويب او بيا د ملګرو ملتو په کلني اجلاس کي هم ومنل شوه او اوس هرکال په نړيواله کچه ۲۱ د فبروري د مورنی ژبي د نړيوالي ورځي په نوم په ټولو هيوادو کي تجليل کيږي ،

ژبه د انساني پرګنو په سرلوړی ، پرمختيا او سوکالی کي مهمه ونډه لري ، د زماني په تيريدو بشري ټولنو د خپلو خپلو ځمکنيو ، ولي ځواکمنو بريدونو په ترڅ کي د ژبي د خپراوي او کره والي هلي ځلي کړي دي ، چي پښتون ولس هم په وار وار له ډيرو ستونزو سره سره په دي هکله يو څو ګامونه اخيستي خو ارواښاد پوهاند علامه عبدالشکور رشاد صاحب ويلي چي ( پښتو له دربارونو څخه شړل شوي او د پاچاهانو له حرم سرايونو څخه راويستل شوي ژبه وه او خلکو هم د دي ژبي په زده کړه کي منصبونه ، دندي ، درباري رتبي او رسمي قبولونه نه ليدل ، نو ځکه ئي دي ژبي ته توجه نه ده کړي ، پوهاند رشاد صاحب ادامه ورکوي چي د ژبي او ادب د پرمختګ لپاره يوه د خلکو او بله د دولتونو پاملرنه ده ، که دولتونه پاملرنه ونه کړي هلته د ژبي ، کلتور او ادب د خپراوي ، پراختيا او ودي امکانات شنډيږي ، د ولس په قوت ، زور او همت به ژبه څه نا څه پراختيا وکړي ، خو هغه به داسي منظم پروګرامونه ونه لري لکه له دولت سره چي وي ، زه داسي فکر کوم که د افغانستان دولت د پښتو ژبي د شتمنی لپاره مؤثر قدمونه واخلي نو هغه وخت به پښتو له سيالانو سره سياله ژبه شي ) خپله ليکنه د جهاني صاحب په دي شعر پاي ته رسوم :

( بيا شملي شولي زيندی د شمله ورو <> بيا د پيغلو په لمنو کي لمبي دي /
پښتنو بيری ډوبيږي ړغ مي اوری <> ړغ مي اوری پښتنو بيری ډوبيږي )

ټـــــــولو هــيـــوادوالو ته د مورنی ژبي د نړيوالي ورځي مبارکي وايم ، اميرګران .